# د ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېرې

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۱٦ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۸مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ





عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

# جینوا، د افغانستان ملا ورو تړله؛ خو چې حکومت، د فساد سرطان له سختو عملیاتو روغ راووځي!

۸ صبح
د پرون روایت | دنن هینداره | د سبا زیری

# سرکرښې

**هرې کورنۍ ته یو لک افغانۍ**

د جینوا کنفرانس پای ته ورسېد؛ نړۍ له ټولو ننګونو او حکومت کې له پراخ فساد سره سره، د جمهوریت په خوا کې ودرېده!

د جینوا نړیوال کنفرانس بریالي پای ته رسېدلو سره، په داسې حال کې چې امریکې بايللي ولسمشر دنالد ترامپ، دعجیبه پرېکړې له مخې امریکې پوځیانو چټک وتو پیلېدو سره، ولسواکه نړۍ، د افغانستان شاته ودرېده او دا هغه پېښه ده، چې د ځوان جمهوریت بقا لپاره، د ټولو جمهوري پالو افغانانو، مړاوې هیلې یې له سره را تازه کړې.
د افغانستان اسلامي جمهوریت له یوه لوی آزمېښته بریالی راووت. ولسمشر غني، ددغه ځوان جمهوریت د ژوند په ترټولو ترینګلو شرایطو کې، وکولای شول نړۍ د افغانستان د اوږدمهالي او قانونمند ملاتړ په جبهه کې ودروي!
د پمپیو او خلیلزاد، له پټو او ښکاره ګواښونو، د امریکې د ژمنه شویو مرستو موقت بندېدو، سیمه ییزو فشارونو، په کور دننه د واک او توطیو بېلابېلو جزیرو له مرموزو هڅو او د «موقت» و «سرپرست» حکومت له ګڼو ډنډورو سره سره، غني په یوازې ځان، د قانون ستنه ټینګه کړه او نړۍ یې په داسې شرایطو کې د افغانستان په خوا کې ودرېدلو ته قانع کړه، چې د سیاسي حریفانو او ګڼو منتقدینو له دې نیکو سره مخ دی، چې ګڼې نوموړی د ځانپال، فردمحوره حاکمیت په لور هېواد ټېل وهي!

د افغانستان لپاره د څلورکلنو مرستو نړیوال کنفرانس، افغانستان لپاره څه باندې ۱۳ میلیارده امریکایي ډالر، مرسته په غاړه واخیسته. دې سره په فساد تورن حکومت وکولای شول، د یوې یوې کورنۍ لپاره شاوخوا یولک افغانۍ را په کور کړي. دا په داسې حال کې ده، چې نړیوال اقتصاد کرونا ځپلی او وسله وال مخالفان، د یواړخیز بري او فتحې خوبونهویني!

دا عجیبه هیواد دی. ته به وایې د افسانو مومنخان، د سرنوشت د پهلوانۍ میدان ته راوتلی، د ویرې او شیطانت په دریابونو ورګډېږي، په ځناورو ډک ځنګلونه تر پښو لاندې غوبل کوي، د اور کروندې په سر بادوي، ګړنګونو ته ځان ورغورځوي...خو بیا هم روغ سر راوځي.

که دولت وکولای شي، چې د فساد تورداغ له خپلې ټنډې لېرې کړي؛ د خلکو په ستونو او ګټو او حقونو سپاره پیلان او دیوان را قابو کړي او ولس ته یوه پاکه، خدمتګذاره او لایقه اداره وړاندې کړي؛ نو شک نشته، چې نیمې پېړۍ اورونو او بادونو خوړلی افغانستان، د خپل سرنوشت فاتح ګرځي.

اوس نو توپ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په واک کې دی؛ وګورو چې د تاریخ پر ټټډه ځان لپاره څه کارنامه ثبتوي!!




# لیکلړ

● د ژنیو په ناسته کې د سولې بهیر پر دوام د افغان چارواکو ټینګار ........ ۱
● د افغانستان لپاره د جنیوا کنفرانس؛ نړیوالې ټولنې خپلې مشروطې... ........ ۲
● غني: له طالبانو سره د مذاکراتو د بریالي کېدو لپاره... ........ ٤
● د امریکا وتل بې پروایي نه ده ........ ۵
● سیمه ییزه سفرونه او د سولې غوټه ........ ٦
● په افغانستان کې له فساد سره مبارزې څرنګوالی ........ ۸
● لنډۍ ........ ۱۰
● د سبزي دوکان ........ ۱۱
● بامیان د ژوند لرغونی پوهنتون ........ ۱۲
● د کورونا ویروس دوهمه څپه ........ ۱۳
● کابل ښاریان د الکین په رڼا کې شپې سبا کوي ........ ۱٤
● ٦۸۰ زره کابل ښاریانو ته د لنډمهاله کاري زمینې برابرول ........ ۱٦
● ننګرهار د سیلانیانو هوساینځای ........ ۱۷
● په کندهار کې د پنبې حاصلات ........ ۱۸
● د سریلانکا سوداګریزې کرکټ سیالۍ پیل شوې ........ ۲۰

د ۸ صبح له نشراتو څخه:
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: ا.و.سمندر
سکرتر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# د ژنیــو په ناسته کــې
# د سولــې بهـیر پر دوام
# د افغان چارواکو ټینګار

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظریف صمیم

د افغانستان لپاره د جنیوا په ناسته کې د سولې بهیر، د تېرو دوو لسیزو د لاس ته راوړنو د خوندیتوب، د افغان کډوالو د برخلیک، له فساد سره د مبارزې، اقتصادي لومړیتوبونو او د مرستو د اغېزمنتیا په اړه بحثونه وشول.

د جنیوا دوه ورځنۍ ناسته چې د لیندۍ په درېیمه د دوشنبې په ورځ پیل شوه، د یو شمېر هېوادونو پر مشرانو سربېره افغان چارواکو خپل پروګرامونه او اړتیاوې له نړیوالې ټولنې سره شریکې کړې.

افغان ولسمشر محمد اشرف غني په خپله وینا کې د سیمې د اتصال په اړه خبرې وکړې او افغانستان یې د سیمې د څلور لارې په توګه یاد کړ او وې ویل چې افغانستان اوس له فرصتونو ډک لرلید لري. هغه زیاته کړه‌چې د کاسا زر، د اورګاډي د پټلۍ، تجارتي ترانزیت او د پانګونې په برخه کې د همکارۍ قوانین د سوداګرۍ زمینه برابروله شي. ښاغلي غني همداراز په سوداګرۍ، ترانزیت، ترانسپورت، روغتیا، او د پانګونې نړیوالو او سیمه ییزو معیارونو ته په پام سره په افغانستان کې پانګونه د ټولو لوریو لپاره ګټوره وبلله.

ولسمشر د تجدید وړ انرژۍ او پراخو سرچینو په برخو کې د هېواد بډاینې ته په پام سره د مرستې غوښتنه وکړه چې افغانستان د انرژۍ او صنعت په مرکز بدل شي. ولسمشر غني همداراز له ډیجیټل سیستم څخه په استفادې د بشري پانګونې په چارو کې د همکارۍ غوښتنه وکړه، ځکه د هغه په وینا ۷۴ سلنه افغانان تر ۳۰ کلنۍ کم عمره او ۴۷ اعشاریه ۵ سلنه تر ۱۵ کلنۍ لږ عمرونه لري او له دغو ځوانو وګړو د آنلاین ټولنو له لارې ملاتړ کېدای شي. محمد اشرف غني له مرستندویه هېوادونو وغوښتل چې له افغانستان سره موخې ته د رسېدو په برخه کې مرسته وکړي ترڅو افغانستان د سیمې او نړۍ د پانګونې په مرکز بدل شي.

اخوا، د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح هم له فساد سره د مبارزې په برخه کې وینا وکړه او سیاسي معاملې یې ددغې مبارزې په وړاندې خنډ وباله. له بلې خوا د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر چې د فنلنډ د بهرنیو چارو له وزیر سره یې ددغې ناستې د اداره کولو مسوولیت درلود جوته کړه: اړتیا ده چې د سولې وروستی وضعیت د خلکو د ارادې له مخې او د نړیوالې ټولنې د منلو وړ وي. نوموړي تلپاتې سوله د افغان دولت د سیاست اصلي موخه وبلله او وې ویل چې دغې موخې ته یوازې د سیمه ییزو او نړیوالو شریکانو د همکارۍ له لارې رسېدای شو. د ښاغلي اتمر په وینا دولت دداسې سولې په لټه کې دی چې د وګړو حقونه او ازادۍ پکې خوندي وي. د بهرنۍ چارو وزیر ډاډ ورکړ چې د سولې له بهیره وروسته، افغانستان د سیمې د ثبات او اتصال په اصلي عامل او د نړیوالې ټولنې لپاره د سولې په ښه شریک بدلېږي.




اخوا، د سولې په چارو کې د دولت وزیر سید سعادت منصور نادري هم په هېواد کې د سولې پر ارزښت ټینګار او د تاوتریخوالي د زیاتوالي په اړه اندېښنه څرګنده کړه. هغه زیاته کړه چې دولت په دې حیاتي پړاو کې سولې ته ژمن دی او د بشري حقونو ډلو او د جګړې قربانیانو دا فرصت پیدا کړی چې مرکچي پلاوي ته خپل دردونه بیان کړي. هغه وویل چې دولت دا درک کړې چې تلپاتې سوله عدالت، اقتصادي پراختیا او ټولنیزې روغې جوړې ته له پامه پرته ناشونې ده.

د سولې په چارو کې د دولت وزیر زیاته کړه: اوس په دې حساس پړاو کې د خپلو دوستانو ملاتړ ته اړتیا لرو چې له مونږ سره د تېرو کابو دوو لسیزو د لاس ته راوړنو او ارزښتونو په خوندیتوب او عادلانه او تلپاتې سولې ته درسېدو په برخه کې مرسته وکړي.

د افغانستان د بشري حقونو د کمېسیون رییسې شهرزاد اکبر هم د اوربند د ټینګښت اړتیا د سراسري سولې او بشري حقونو ارزښت ته اشاره وکړه. د افغان دولت د مرکچي پلاوي مشر معصوم ستانکزي هم وویل چې باید تېرې تجربې تکرار نه شي، ځکه تېرو کړنو او پېښو افغانان له ډېرو ننګونو سره مخامخ کړي دي. هغه زیاته کړه چې د سولې بهیر زغم، ځیرتیا او ګډ کار ته اړتیا لري او د ښځو او لږکیو حقونو ته له پامه پرته تلپاتې سوله نشي راتلای. هغه د افغان کډوالو ستونزو ته هم اشاره وکړه.

د ویلو ده چې پر افغان چارواکو سربېره د بهرنیو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو هم ویناوې وکړې او پر سولې، له فساد سره پرمبارزې او د تېرو دوو لسیزو لاس ته راوړنو ته پر خوندیتوب یې ټینګار وکړ.

# د افغانستان لپاره د جنیوا کنفرانس؛ نړیوالې ټولنې خپلې مشروطې مرستې اعلان کړې



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ راپور: محمد عزیز پردېس

د افغانستان لپاره د جنیوا ۲۰۲۰ غونډه د ګڼ شمېر هېوادونو د استازو په ویډیويي او مستقیم ډول ګډون سره د روان کال د نومبر میاشتې په ۲۳مه او ۲۴مه د سویس په پلازمېنه ژنیو کې د افغانستان او فنلنډ هېوادونو په ګډ کوربه توب جوړه شوه.

دغه ناسته د کورونا ویروس له امله د ویډیو کنفرانس له لارې ترسره شوه.

د دغه کنفرانس کوربه توب د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر په مشرۍ د ګډ پلاوي په غاړه ؤ. په دې ناسته کې نړیوالې ټولنې او بنسټونو له افغانستان سره د راتلونکو ۴ کلونو لپاره د شاوخوا ۱۲ میلیارده ډالرو مشرطو مرستو اعلان وکړ. د مرستو یو اساسي شرط، له طالبانو سره د افغان سولې په برخه کې پرمختګ ښودل شوی دی.

افغان ولسمشر محمد اشرف غني په دې ناسته کې د ویډیو کنفرانس له لارې دې غونډې ته په خپله وینا کې وویل: داسې سوله غواړو چې د افغانستان د اساسي قانون او د بشري حقونو له نړیوالو ارزښتونو سره برابره

سـوله وي.

د ملگروملتونو عمومي منشي انتونيو گوتيرش ياد کنفرانس ته په خبرو کې له افغانستان سره د ملگروملتونو د ملاتړ پر دوام ټينگار درلود.

نوموړي د سولې، بشري حقونو، او د ښځو پر حقونو د ټينگار ترڅنگ غوښتنه وکړه چې د لاډېرو تلفاتو د مخنيوي او کورونا ويروس سره د مبارزې په پار بايد ژر تر ژره په افغانستان کې يو تلپاتې اوربند وشي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پومپيو دغې ناستې ته په وينا کې ويلي دي چې، امريکا به په پراتلونکي يوه کال کې له افغانستان سره ٦ سوه ميليونه ډالره مرسته وکړي، خو نيمه برخه، يعنې ۳ سوه ميليونه ډالره مرسته به د افغانستان د سولې په بهير کې د پرمختگ په مشروط وي.

ښاغلي پمپيو يو ځل بيا ټينگار وکړ چې په دوحه کې روانې خبرې په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ثبات لپاره زرين فرصت دی.

په دې کنفرانس کې د امريکا، روسيې، چين، بريتانيا، هند، جرمني هېوادونو په گډون د نړۍ ډېرو هېوادونو له افغانستان سره د راتلونکو کلونو لپاره د مالي مرستو او ملاتړ ټېر وواهه. تقريبا د ټولو هېوادونو مشرانو او استازو په يوه خوله په افغانستان کې د اوربند غوښتنه وکړه او د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ يې د سولې مذاکراتو له روان بهيره ملاتړ اعلان کړ.

ويناوالو په خپلو خبرو کې د افغانستان د تېرو کلونو د لاسته راړنو په ساتنې ټينگار وکړ او هيله يې څرگنده کړه چې په راتلونکو کلونو کې د ټولنې نورو برخو ترڅنگ د افغان مېرمنو او ماشومانو د حقونو خونديتوب ته لازياته پاملرنه وشي. دغه راز په دې کنفرانس کې جنسيتي برابري هم د مرستو يو شرط گڼل شوی دی.

د افغانستان د ماليې وزارت وياند شمروز خان مسجدي وويل چې، نړيوالې ټولنې د ۲۰۲۱ کال لپاره څه باندې ۳ ميلياره ډالره مرسته اعلان کړه.

نوموړي کړه: که ژمنې پوره شي، نو دغه مرستې به د راتلونکو ۴ کلونو لپاره څه باندې ۱۳ ميليارد ډالرو ته ورسېږي.

د سرچينو په وينا په دې غونډه کې له افغانستان سره:

اروپايي ټولنې: ۱،۲ ميليارد ډالره
بريتانيې: ۱۵۵ ميليون پونډه
کانادا: ۲۷۰ ميليون ډالره
ډنمارک: ٦۴ ميليون ډالره
ناروې: ۱۷ ميليون ډالره
استراليا: ۲۰۰ ميليون استراليايي ډالره
جاپان: ۱۸۰ ميليون ډالره
هندوستان: ۳ ميلياره ډالره
ايټاليا: ۳۵ ميليونه يورو
ترکيې: ۷۵ ميليون ډالره
اندونيزيا: ۵ ميليون ډالره
هالنډ: ۲۰۰ ميليونه يورو
ايرلينډ ۵ سوه زره ډالره
او لوکزامبورک د ۲،۵ ميليون ډالره مرستو اعلان وکړ.



# غني: له طالبانو سره د مذاکراتو د بریالي کېدو لپاره د ملګروملتونو اجرايي بنديزونه مهم دي



◆ ژباړه: محمد عزيز پردېس
◆ د ليندۍ لومړۍ نېټه، ۱۳۹۹

ولسمشرغني د ملګروملتونو د امنيت شورا په ناسته کې چې د افغانستان د سولې بهير په اړه ترسره شوه، وويل چې له طالبانو سره د مذاکراتو د بريالي کېدو لپاره د بنديزونو اجرا کېدل يو مهم اوزار دی.

غني په دې ناسته کې چې د لرې په دېرشمه، جمعه ماښام ترسره شوه، په آنلاين ډول وينا وکړه. ولسمشر غني وويل چې د ملګروملتونو بنديزونه يوازې هغه وخت اغېزمن کېدای شي چې د سولې په روان ميکانيزم کې هر بدلون د دې بهير د څرګند پرمختګ په اساس وي.

نوموړي وړانديز وکړ چې د ملګروملتونو امنيت شورا بايد ترهګرۍ د يو «ايکوسيستم» په توګه ومني، نه د انزوا شويو سازمانونو په توګه.

ولسمشر غني وويل چې له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره يوې تګلارې ته اړتيا ده چې د ملګروملتونو د امنيت شورا يې ملاتړ وکړي.

غني د ملګروملتونو له امنيت شورا وغوښتل چې بياځلې په افغانستان کې د اوربند د رامنځته کېدو غوښتنه وکړي، ترڅو په دې توګه د کرونا له دويمې څپې سره د مبارزې لپاره ښه چمتووالی ونيول شي.

د ملګروملتونو د امنيت شورا او د دې سازمان ځينو غړو له لوري د طالبانو ډلې پر ځينو مشرانو بنديزونه او تعزيرات له کلونو راهيسې لګول شوي دي چې په دې کې د سفر ممنوعيت هم راځي.

د امريکا – طالبانو د هوکړې يوه ګټه د دغو تعزيراتو او بنديزونو ليرې کېدل ګڼل شوي دي.

له بل پلوه ولسمشر غني وويل چې د افغانستان د سولې په اړه د ملګروملتونو د امنيت شورا ناستې ترسره کېدل د دې معنی ورکوي چې دغه شورا په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټيکاو لپاره غښتلی هوډ لري.

ولسمشر غني د افغانستان د خلکو د ملاتړ لپاره د ملګروملتونو د امنيت شورا ژمنې، د جګړې د ختمولو، بيا ادغام، تلپاتې سولې او ثبات، بشري حقونو ته د درناوي لپاره او دا چې افغانستان بياځلې د ترهګرو لپاره په امن پټنځای بدل نه شي مهمې وګڼلې.

ولسمشر غني وويل چې افغانستان له نړيوال تروريزم سره د مبارزې په لومړۍ کرښه کې دی او د ترهګرۍ د ماتې لپاره په ګډه له خپلو شريکانو سره مبارزه کوي چې سولې ته ورسېږي. د نوموړي په وينا سولې ته رسېدو په وخت کې ښايي چې ټول د يو او بل په څنګ کې وي.

ولسمشر وويل چې د سولې ټينګښت قيمت لري او په دوحه کې د دولت مرکچي پلاوی په مذاکراتو کې خپلو ژمنو ته پابند دي.

غني، سوله د خپل دولت لومړيتوب اعلان کړ او ويې ويل چې بايد د سولې بهير ته نوې انرژي وبښل شي، ځکه په دوحه مذاکرات په نامطلوب حالت کې دي او د ملګروملتونو امنيت شورا کولی شي چې مثبت رول ولوبوي.

د نوموړي په وينا نن ورځ نړيوالو ټولنو دې پايلې ته رسېدلي ده چې افغانستان يوې سياسي حل لارې ته لاسرسی پيدا کړي او په نړۍ کې د واکمنۍ او ولسواکۍ لرونکې او سوله ييز هېواد واوسي.

محمد اشرف غني په خپلو خبرو کې وويل چې د ملګروملتونو د امنيت شورا د افغانستان پر ارزښتونو او موخو د تائيد مهر لګوي او همدارنګه هغه چوکاټ مشخص کوي چې يوازې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مشروع دی او اسلامي امارت د ملګروملتونو له لوري په رسميت نه دی پېژندل شوی او له بيا منځته راتګه يې ملاتړ نه کوي.

ولسمشر غني همداراز د ملګروملتونو له امنيت شورا د افغانستان د دفاعي او امنيتي ځواکونو د ملاتړ غوښتونکی شو.

غني، د افغانستان د بېلابېلو برخو پرمختګونو په اړه هم يادونه وکړه. نوموړي وويل چې د افغان امنيتي ځواکونو ۹۸ سلنه پوځي عمليات په خپلواکه توګه پرمخ ځي.

د نوموړي په وينا د ملي شورا ۲۸ څوکۍ د ښځو په واک کې دي چې د امريکا له پارلمان څخه يې فيصدي لوړه ده.

همدارنګه نوموړي وويل چې ۵۳ سلنه صنعتي کارونه د ښځو له لوري مخ ته وړل کېږي او ۳۷ سلنه زده کوونکي نجونې دي.

ولسمشر د ناستې په پای کې وويل چې د افغانستان په اړه د ژنيو کنفرانس او پايلې يې د هېواد پر ځان بسياينې او پرمختګ اغېزمن رول لري.



# د امــریکـا وتل بې پروايي نه ده

◆ سرچینه: واشنګټن پوست
◆ لیکوال: دانیل ال. دیویس
◆ پښتو ژباړن: محمد عزیز پردېس

تېره اوونۍ، د امریکا متحده ایالاتو دفاع وزیر، مارک اسپر له لیرې کېدو او د دفاع وزارت سرپرست په توګه د کریستوفر میلر له نومولو او د نوموړي د ستر سلاکار په توګه د داګلاس مک ګریګور له ټاکل کېدو وروسته، د ډېری کارپوهانو په باور، ترمپ نیت لري چې د خپلې ولسمشرۍ دورې له پاې ته رسېدو مخکې، له افغانستان او دغه راز ښايي له عراقه د امریکایي ځواکونو د وتلو بهیر چټک کړي!

په داسې حال کې چې ډېری کارپوهان د امریکا د پوځي شاتګ په اړه د اخیستل شویو ګامونو په تړاو د خبرداری زنګ کړنګوي، ځینې نور چې د افغانستان د چارو په اړه د تجربې خاوندان هم دي، په حقیقت کې ددغو ځواکونو له احتمالي شاتګ څخه ملاتړ کوي.

د سي آي اې سازمان پخواني لوړ پوړی افسر، مارک پولیمرپولس، د چهارشنبې په وروستیو کې پولیټیکو ته وویل چې نوموړی له افغانستانه د امریکایي ځواکونو «په بېړه وتل» یو «غیرمحتاطانه» اقدام ګڼي. د ښاغلي پولیمرپولس نظریات او لیدتوګې هېځمهال هم تر غور او ارزونې لاندې نه نیول کېږي. په لومړي سر کې ستونزمنه ده، چې وروسته له ۱۹ کلونو له افغانستانه وتلو ته د «بېړې» تعریف ورکړو. د روان کال په فبرورۍ کې د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د هوکړې له لاسلیکېدو راهیسې، د ټولو ځواکونو د وتلو په اړه د ښاغلي ترمپ نیت او اراده په بشپړه توګه څرګنده وه.

نیویارک ټایمز په مې میاشت کې راپور ورکړ چې پنتاګون د داسې نقشو په تیارولو بوخت دی چې باید د ۲۰۲۱ کال تر مې میاشتې خپل ټول ځواکونه بهر کړي. د څلورو میاشتو په لړ کې، له داسې بې برې شل کلنې جګړې وروسته، د شاتګ بهیر ته چټکتیا ورکول، یو د «بېړې» ګام دی چې اخیستل کېږي. پر دې سربېره، کارپوهان له دې هم وېره لري چې ښاغلی ترمپ هڅوي چې  په بېړې سره د وتلو په اړه خپله غوښتنه د پوځ پر جنرالانو وتپي. دغه بحث په خپله د اندېښنې نښه ده.

راځئ دا روښانه کړو چې د امریکا متحده ایالاتو قانون وړاندوینه کړې چې ملکیان پوځ اداره کوي. **د اساسي قانون درېیمې مادې، ولسمشر، اعلی سرقومندان تعیین کړی دی او جنرالان مکلف ګڼي چې د نوموړي حکمونه اجرا کړي.** ولسمشر؛ د موضوعاتو په اړه له لوړپوړو پوځي افسرانو سره مشوره کوي، خو کله چې اعلی سرقومندان قانون ورکړي واک نه په کار اخستلو سره حکم ورکوي، جنرالان اړ دي چې اجرا يې کړي، خو حق نلري چې هغه تر پوښتنې لاندې راولي. دا مهم ټکی هم د یادونې وړ دی چې زموږ منتخب مشران او پوځي افسران هم د امریکا د خلکو د ګټو او ارادې د خوندیتوب لپاره خدمت کوي.

د امریکا ډېری وګړو، آن ډېری مخکینیو سرتېرو هم د شاتګ په اړه د ښاغلي ټرمپ له پرېکړې ملاتړ کړی دی. آن د جو بایدن ٦٠ سلنه رایه ورکوونکي هم شاتګ ته ترجیح ورکوي. ځینې نور استدلال کوي چې ولسمشر باید مخکې له شاتګ څخه اجازه ورکړي چې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ هوکړه وشي.

له دوو نظرونو به شاتګ تېروتنه وي: لومړی، اوس ټولو ته څرګنده شوې ده چې که د امریکا پوځ په افغانستان کې حضور ولري یا يې ونه لري، د طالبانو او دولتي ځواکونو ترمنځ تاوتریخوالی به آن د مذاکراتو په جریان کې هم دوام ولري. ددې ټکي یادول هم مهم دي چې دولتي ځواکونو حکومت د طالبانو پر وړاندې ټینګ کړی او دا ښه دلیل دی چې باور پرې وکړو، هغوی به له شاتګ څخه وروسته هم خپل کار ته دوام ورکړي. سربېره پر دې **دا جګړه د هغوی (افغانانو ده – نه زموږ چې ګټونګې یا بایلونکي واوسو.**

په لاندې دلیلونو سره ویلو شو چې زموږ امنیت په خطر کې نه دی:
د ځواکمنو اطلاعاتي، څارونکو او کشفي بنسټونو له لارې، د ترهګریزو ګواښونو پر وړاندې د خپلې دفاع لپاره، د امریکا غښتلتیا او زموږ پر هېواد د هر ډول مستقیمو ګواښونو پر وړاندې د هدفمندو او نادره بریدونو ترسره کول.

موږ به په افغانستان کې د دایمي اډو له درلودلو پرته له ګواښونو خوندي یو. ستراتیژیک منطق ایجابوي چې د امریکا متحده ایالات، د افغانستان په جګړه کې زموږ رول ته د پای ټکی کېږدي او زموږ ځواکونه بهر کړي. که ښاغلی ترمپ او پنتاګون کولای شي د امریکا ترټولو اوږدې جګړې د پای ته رسېدو لپاره زمینه برابره کړي، نو دا ګام به د ستاینې وړ وي. موږ باید له مالیه ورکوونکو وغواړو چې د یوې نه پای ته رسېدونکې جګړې لپاره خپلې پیسې ضایع نکړي او موږ له خپلو سرتېرو غواړو چې نور خپل ځانونه ددې نه بریالی کېدونکې جګړې لپاره، له خطر سره مخ نه کړي.

**۱ یادونه:** دانیل ال. دیویس، د دفاعي لومړیتوبونو یو لوړ پوړی غړی او د پوځ یو افسر دی چې څلور ځله د جګړې سیمو ته استول شوی دی. نوموړی د «امریکا په ۲۰۲۰ کال کې یوولسم ساعت» کتاب لیکوال دی.

**۲ یادونه:** د لیکوال نظر ته په درنښت سره، افغانانو سره پوښتنه مطرح ده، چې امریکایي پوځ د چا په بلنه او پریکړه او بیا څه لپاره راغلی ؤ او اوس له کومو لاسته راوړنو سره بېرته خپل هېواد ته په شا تګ کوي؟ دغه راز هغه ارزښتونه چې امریکا يې د خپل سیاسي نظام ځانګړنې ګڼي، د امریکایي پوځیانو له وتلو سره به، دلته څه ورسره کېږي؟ او د مریکې د ستر ملت هوډ د بشري و مدني ازادیو، ښځو حقونو، او بشر حقونو په اړه څه دي؟

# سیمه ییزه سفرونه او د سولې غوټه



◆ لیکوال: خدایار نایب‌زاده
◆ ژباړن: محمد عزیز پردېس

**یادونه:**
ورځپاڼه چلوونکی، خدایار نایب زاده تر دې سرلیک لاندې «آیا د ډاکتر عبدالله عبدالله سیمه ییز سفرونه به د سولې غوټه پرانیزي؟» یوه شننه کړې، چې زموږ همکار محمد عزیز پردېس پښتو ته راژباړلې.

د ملي روغې جوړې عالي شورا رئیس، ډاکتر عبدالله عبدالله، د لړم په ۲۸مه، د چهارشنبې په ورځ ترکیې ته ولاړ. دغه سفر پاکستان، هند، ایران او ازبکستان ته د نوموړي د تېرو مباشتې د سفرونو په دوام ترسره کېږي او موخه یې د سیمه ییزې اجماع او دننه په افغانستان کې د هېوادونو د شخړو او سیالیو، مدیریت بلل شوی دی.

ترکیه د سیمې له لویو اقتصادي قدرتونو او له هغو هېوادونو یو دی چې د فارس خلیج او منځنۍ آسیا په سیاسي-امنیتي پېښو کې مهم رول لري. دغه هېواد د ناټو غړیتوب لري، دوه براعظمونه، آسیا او اروپا له یو او بل سره نښلوي. په منځنۍ آسیا او نړۍ کې ډېر فعال او په سیمه کې د خپل ستراتیژیک نفوذ په لټه کې دی. په همدې اساس د افغانستان د سولې بهیر ته لېواله دی.

ترکیه له قطر، پاکستان او افغانستان سره ستراتېژیکې او تاریخي اړیکې لري، چې په سیمه کې یې نفوذ او موقعیت ته په کتو، د افغانستان د سولې په بهیر کې مثبت رول لوبولای شي. په دې لیکنه کې به له پاکستان او قطر سره د ترکیې ژورو اړیکو او د افغانستان د سولې په بهیر یې د رول او اغېز په اړه بحث وکړو.

**له پاکستان سره د ترکیې اړیکې**

انقره او اسلام اباد په ۱۹۴۷ کال کې د پاکستان له رامنځته کېدو راهیسې، ښې اړیکې لري. ترکیه له هغو لومړنیو هېوادونو ؤ چې پاکستان یې په رسمیت وپېژاند او له دې هېواد سره یې ډیپلوماتیکې اړیکې جوړې کړې. په وروستیو کې د عمران خان په واکمنېدو او له اردوغان سره د نوموړي له نږدې کېدو سره په سیاسي، دفاعي-امنیتي او فرهنگي برخو

کې، د دواړو هېوادونو همکارۍ پراخې شوې دي.

**پاکستان هڅه لري چې له ترکيې پوځي - دفاعي وسايل وپېري. د دواړو هېوادونو ترمنځ، د ۲۰۱۹ کال د هوکړه ليک په اساس، تمه ده چې انقره «T۱۲۹» ډوله ۳۰ چورلکې او ۴ پوځي بېړۍ پاکستان ته وسپاري. همداراز ترکيه غواړي چې د پاکستان د اتومي پوهانو له تجربو ګټه پورته کړي. رجب طيب اردوغان په همدې کال کې اعلان وکړ چې ترکيه بايد اتومي وسله ولري.**

په ۱۳۹۸ کال کې د ترکيې ولسمشر پاکستان ته د خپل سفر پرمهال وويل چې اسلام آباد د ترکيې د بهرني سياست له مهمو موخو څخه دی. اردوغان څو ځله د کشمير د مسلمانانو په اړه، د هند پر چلند نيوکې کړې دي. پاکستانيان، کشمير د پاکستان د بقا لامل ګڼي. په همدې دليل وروسته له دې چې عربستان د کشمير د مسئلې په تړاو علاقه ونښوله، د اسلام آباد او رياض اړيکې ترينګلې شوې دي.

عمران خان ډېر ځله د ترکي سريالونو په اړه د خپلې علاقمندۍ يادونه کړې ده او ويلي يې دي چې د پاکستان فرهنګ د هاليوود او باليوود په لاس ککړ شوی دی. د لومړي وزير د مقام له لوري د داسې خبرې کول، د چلند له اړخه د ترکيې په لور د پاکستان د بهرني سياست د ځانګړې لېوالتيا په مانا دی.

## له قطر سره د ترکيې اړيکې

قطر په ۱۹۷۱ کال کې له انګلستانه خپلواکي ترلاسه کړه او په همغه لومړيو کې د ترکيې له لوري په رسميت وپېژندل شو. په ۱۹۷۹ کال کې د سفارتونو په رامنځته کېدو سره، د دواړو هېوادونو ترمنځ ډيپلوماتيکې اړيکې جوړې شوې او تر دې دمه دوستانه اړيکې لري.

ترکيې او قطر په ۲۰۱۱ کال کې د «عرب پسرلي» د رامنځته کېدو په اړه يو ګډ دريځ اختيار کړ او له اخوان المسلمين څخه يې ملاتړ اعلان کړ. دواړه هېوادونه په سيمه کې د ايران، روسيې او د پوځي ډلو د حضور مخالف دي او د عربستان او امارتو له سيالانو شمېرل کېږي. په ۱۳۹۶ کال کې د قطر او عربي هېوادونو د شخړې په رامنځته کېدو کې، ترکيې له قطر سياسي او اقتصادي ملاتړ وکړ.

**ترکيه په قطر کې پوځي اډې لري او د قطر د تېلو له لويو پېرودونکو څخه دی او قطر هم دويم هېواد دی چې په ترکيه کې ترټولو ډېره پانګونه لري.**

## له افغانستان سره د ترکيې اړيکې

په وروستيو سلو کلونو کې د ترکيې او افغانستان اړيکې دوستانه او د همکارۍ په ډول وې. افغانستان وروسته له خپلواکۍ، د ترکيې له لوري په رسميت وپېژندل شو. امان الله خان له مصطفی کمال اتاترک سره د پرمختګ او سوکالۍ په اړه ګډ ليد او دوستانه اړيکې لرلې. په همدې خاطر په ۹۰مه لسيزه کې د طالبانو رژيم د رامنځته کېدو او د پاکستان له لوري د دوی ملاتړ په اړه ترکيې منفي غبرګون ونښود او له مجاهدينو يې ملاتړ وکړ.

په ۲۰۰۱ کال کې د امريکا متحده ايالاتو له لوري پر افغانستان له بريد وروسته، ترکيې د ناټو په چوکاټ کې هېواد ته سرتېري راواستول او د افغانستان په بيارغونه کې يې فعاله ونډه لرلې ده. انقره هر کال ځوانو افغان افسرانو او زده کړيالانو ته په سلهاوو تحصيلي او پوځي - ملکي بورسونه ورکوي او د نوي افغانستان سياسي او اقتصادي ملاتړی هېواد ګڼل کېږي.

همدارنګه ترکيه او افغانستان د ژورو تاريخي، فرهنګي او نژادي تړاوونو لرونکي دي. د افغانستان تُرک توکم د ترکيې تر پاملرنې لاندې دي او د افغانستان بدلونونو ته د ترکيې لېوالتيا يو لامل هم همدا مسئله کېدای شي. د افغانستان د تُرک توکمو له قومونو سره د ترکيې اړيکې بايد ددې هېواد په تړاو د افغانستان د بهرني سياست يو له مهمو اوزارو وي چې په سيمه کې د ترکيې له ظرفيتونو او موقعيته، د هېواد د سولې او ثبات د ټيکاو او ملي ګټو د خونديتوب لپاره ترې لازمه ګټه پورته شي. په ضمن کې ترکيه له پاکستان او قطر سره ډېرې نږدې اړيکې او د پام وړ نفوذ پرې لري، چې مخينه يې څو لسيزو ته رسېږي.

د کشمير له مسلمانانو سره د هند د چلند په اړه د انقرې له نيوکې وروسته د ترکيې او پاکستان اړيکې او همدارنګه پر قطر د لګول شوي بنديز يا محدوديت په وخت کې له دې هېواده د انقرې له ملاتړه وروسته، د يادو هېوادونو اړيکې ستراتيژيک پړاو ته رسېدلې دي. پاکستان او قطر هغه هېوادونه دي چې پر طالبانو ترټولو ډېر نفوذ او اغېز او د افغانستان د سولې په بهير کې ټاکونکی رول لري.

په همدې اساس د افغانستان د سولې په بهير کې د انقرې رول د نه انکار وړ دی؛ هم له تاريخي ـ کلتوري او قومي اړخه او هم په سيمه کې د هغه هېواد د موقعيت له اړخه. له همدې کبله ياد هېواد ته د ملي روغې جوړې د عالي شورا رئيس سفر هيله بښونکی دی، سربېره پر دې چې د بهرنيو ځواکونو شمېر مخ په کمېدو دی او په قطر کې د سولې خبرې اترې پڅې پر مخ ځي.

**تمه ده دا سفر ددې لامل شي چې ترکيه په سيمه کې خپل موقعيت او پر قطر له خپل نفوذه په ګټې اخيستو سره، د افغانستان د سولې بهير ګړندی کړي.**

**افغانستان د شخړو او د سيمه ييزو او نړيوالو قدرتونو د ګټو د تضاد مرکز پاتې شوی دی. له دې لوريو په يوه باندې د افغانستان د حکومت د لنګر اچول، هېواد ته د زيان اوښتو کچه څو برابره کوي او د افغانستان د سولې بهير او د امنيت معما پيچلتيا ډېروي.**

په همدې اساس تمه کېږي چې د افغانستان د سولې بهير په اړه د هېوادونو د رول تعادل او په ځينو برخو کې انډول په پام کې ونيول شي. همدې ليدلوري ته په کتو سره، د ملي روغې جوړې عالي شورا رئيس سفرونه ارزښت لرونکي او د پام وړ دي؛ خو هغه څه چې د ښاغلي عبدالله اصلي ماموريت ته بنه ورکوي، د سيمه ييزې اجماع رامنځته کول او د سولې د غوښتې پرانستلو په موخه په سيمه کې د سولې ضد قدرتونو د هڅو مخنيوی دی.

# په افغانستان کې له فساد سره مبارزې څرنګوالی



◆ لیکوال: عبدالله بهمنش
◆ ژباړن: م. ظریف صمیم

د ملي یووالي حکومت، د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر په ۲۸مه له اداري فساد سره د اغیزناکې مبارزې او په قوانینو او حکومتي بنسټونو کې د اصلاحاتو د راوستو او ددغو بنسټونو د اغېزمنتیا په موخه، له فساد سره د مبارزې ملي ستراتیژي برابره کړه. دغه ستراتیژۍ د قانون د واکمنۍ او حکومتولۍ شورا په څو ناستو کې له بحثونو وروسته، د کابینې لخوا تصویب او د ولسمشر د ۱۷۷۱ ګڼې فرمان له صادرولو سره د اجرا وړ شو.

ددغې ستراتیژۍ له تدوین او نافذېدو مخکې، د حامد کرزي د ولسمشرۍ پرمهال له اداري فساد سره د مبارزې لپاره یوه بله تګلاره برابره شوې وه، او د پلي کولو لپاره یې، له اداري فساد سره د مبارزې د تګلارې پر پلي کېدو د څارنې قانون او له اداري فساد سره د مبارزې تګلارې پر عملي کېدو د څارنې عالي اداري رسمي فعالیت درلود!له اداري فساد سره د مبارزې تګلارې پر پلي کېدو د څارنې عالي اداره، د ولسمشر د ۱۳۸۷ کال د چنګاښ په ۳۱مه د ۶۳ ګڼې فرمان له مخې، له اداري فساد سره د مبارزې تګلارې پر پلي کېدو د څارنې او له اداري فساد سره د مبارزې د اړوندو چارو د همغږۍ په موخه، د ۱۳۸۷ کال د لړم په ۲۸مه جوړه شوه. له دغې اداري مخکې، د ۱۳۸۲ کال د لیندۍ په ۲۴مه له اداري فساد سره د مبارزې په موخه له بډو او اداري فساد سره د مبارزې خپلواک ریاست جوړ شوی و چې څه موده وروسته د هغه وخت ولسمشر حامد کرزي، د قاضي القضات په مشرۍ د لوړپوړو دولتي چارواکو په ګډون یو کمېسیون جوړ کړ چې په هېواد کې اداري فساد وارزوي، ریښې یې پیدا او له فساد سره د مبارزې اغېزمنې لارې چارې برابرې کړي.

بالاخره د ولسمشر کرزي لخوا د ځانګړي کمېسیون په هڅو، له اداري فساد سره د مبارزې تګلاره برابره او تصویب شوه او ددغې تګلارې له مخې دولت له بډو او اداري فساد سره د مبارزې خپلواک کمېسیون په منحلولو او له اداري فساد سره د مبارزې د تګلارې پر پلي کېدو د څارنې د عالي اداري په جوړولو مکلف شو. دا اداره له اداري فساد سره د مبارزې د یوازینۍ کشفي مرجع په توګه چې مسلکي غړي یې د جزایي اجرااتو قانون، د څلورمې مادې پر اساس، د قضایي مامورینو په توګه پېژندل شوي وو، جلا تشکیل او مرکزي او د هېواد په شپږو زونونو کې یې دفترونه لرل.

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وروسته، ددې پر ځای چې مشرتابه یې له اداري فساد سره د مبارزې پر تګلارې له سره غور وکړي او په کنفرانسونو او ناستو کې د حکومت د ژمنو پربنسټ اصلاحات او تعدیلات پکې راولي، له اداري فساد سره یې د مبارزې نوې ملي تګلاره جوړه کړه. په دې تګلاره کې پنځه لومړیتوبونه په پنځو حکومتي برخو کې په روښانه توګه تعریف شوي دي. له ۲۰۱۷ تر ۲۰۱۹ کال پورې په عدلي او قضایي بنسټونو کې اصلاحات په ګوته شوي چې له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې له اداري پرته، د ټولو بنسټونو انسجام، د لویې څارنوالۍ تر مشرۍ لاندې په دغه ستراتیژۍ کې د دولت اصلاحي اقدامات دي.

له اداري فساد سره د مبارزې اداري د مسوولیت یوه برخه چې د حکومتي چارواکو د شتمنیو ثبتول او ارزول ؤ، د ولسمشرۍ د چارو اداري ته ولېږدول شوه او د شتمنیو د ثبت او ارزونې په نوم ځانګړې بنسټ جوړ شو. له هغه وخت راهیسې همدا اداره د حکومتي چارواکو د شتمنیو د ثبت او ارزونې مسوولیت لري. له اداري فساد سره د مبارزې اداري ادغام او د قانون منحلول یې چې په هغه مهال یوازینۍ قانون ؤ چې د اداري فساد موارد یې تشخیص او تعریف کړي وو، له یوې خوا له افغانستان سره د مرستندویه هېوادونو، له اداري فساد سره د مبارزې د غبرګونپه بهیر کې فعالو بنسټونو او نړیوالو سازمانونو له پراخ غبرګون سره مخ شو او له بلې خوا دا ډول اقدام د ملګروملتو سازمان له اداري فساد سره د مبارزې ترون او نورو نړیوالو کنوانسیونونو پرخلاف ؤ چې افغان دولت ورسره یو ځای شوی او رعایتولو ته یې ژمن شوی دی.

افغان دولت هغه مهال په نړیوالو لاسوندونو او غونډو کې د خپلو ژمنو پرخلاف پرېکړه کړې وه چې په هغې کې مرستندویه هېوادونو، خپلې مرستې له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې، د افغان حکومت په عملي اقداماتو پورې اړوند بللې وې. که څه هم له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې کورني بنسټونه او سازمانونه، په رسمي

ناستو کې د ملي یووالي حکومت له مشرانو سره له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون له جوړولو سره موافق وو، خو په هغه وخت کې ولسمشر غني له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون جوړول، د اساسي قانون پرخلاف بللي ؤ او له جوړېدو سره یې مخالفت کړی و.
په داسې حال کې چې افغان حکومت د ملګروملتو له اداري فساد سره د مبارزې نړیوال تړون د رعایتولو او په نړیوالو ژمنو کې خپلو ژمنو ته په پام سره، باید له اداري فساد سره د مبارزې خپلواک کمېسیون جوړ کړی وای. خو په هر لامل چې و حکومت یوازینی قانون چې له اداري فساد سره د مبارزې د تنظیم او همغږۍ لپاره یې درلود له اداري سره یې یو ځای لغوه کړ چې په پایله کې، په یو وخت له اداري فساد سره د مبارزې په بهیر کې دوې تشې رامنځته شوې.
لومړۍ تشه په ځانګړو، خپلواکو او غیرسیاسي واکونو سره د یوه غیرحکومتي بنسټ یا مرجع نشتوالی دی چې له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې په خپلواکه، غیرسیاسي او بې پرې توګه له اداري فساد اړوند مسایل وڅېړي.
دوهمه تشه، حقوقي ـ قانوني تشه یا نیګړتیا وه چې له اداري فساد سره د مبارزې د قانون په لغوه کېدو رامنځته شوه. په هغه وخت کې له اداري فساد سره د مبارزې پر تګلارې د څارنې قانون چې په هغې کې د اداري فساد اتلس ګوني موردونه جوت شوي وو، د ولسمشر په فرمان لغوه شو.
بالاخره افغان حکومت، په دې برخه کې د فعالو بنسټونو او له افغانستان سره د مرستندویه هېوادونو له پراخو نیوکو او فشارونو وروسته، د ۱۳۹۷ کال په پیل کې مجبور شو چې یو ځل بیا له اداري فساد سره د مبارزې قانون برابر او له اړوندو بنسټونو او سازمانونو سره له سلامشورو وروسته، په تقنیني فرمان سره نافذ او د ۱۳۹۷ کال د تلې د ۱۸مې نېټې درسمي جریده په ۱۳۱۴ ګڼه کې خپور شو.
له اداري فساد سره د مبارزې قانون نافذېدل او خپرېدل چې په هغې کې د مدني ټولنې او په دې برخه کې د فعالو بنسټونو نظریات په پام کې نه وو نیول شوي، یو ځل بیا ددغو بنسټونو له پراخ غبرګون سره مخامخ شو. افغان حکومت، یو ځل بیا هغو فشارونو ته غاړه کېښوده او له اداري فساد سره د مبارزې قانون یې مخکې له دې چې پلی شي تعدیل یې کړ. له اداري فساد سره د مبارزې قانون په نوي تعدیل کې، له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون د غړو د ټاکلو په شان مسلو کې د نیوکه کوونکو بنسټونو نظریات تر یوه بریده منعکس شول.
د ولسمشر لخوا د نوموړي قانون له توشېح کېدو دوه کاله وروسته او د هغې د ځینو مادو له تعدیل څخه یو کال وروسته، **ولسمشر د ژنیو له غونډې یوه اونۍ مخکې د ۱۳۹۹ کال د لړم په ۲۲مه د ۱۱۰ ګڼې فرمان په صادرولو سره، له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون غړي معرفي او د کمېسیون فعالیت یې د ژنیو له ناستې یوه اونۍ وړاندې پر داسې مهال اعلان کړ چې له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د کشفي مرجع د نشتوالي تشه تر یوه بریده لیرې شوه.**
د یادولو ده، چې ددې مقالې د لیکوال لیکنه څه موده مخکې هم په ۸صبح کې د کشفي مرجع د تشې په نوم خپره شوه او په قانوني دلایلو یې د داسې بنسټ چې اداري فساد تثبیت او وڅېړي تشریح کړی و.
اوس چې له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون چې په جوړښت کې یې دوې مېرمنې هم شته، د ولسمشر په فرمان سره فعالیت پیل کړی، یو ځل بیا په دې بهیر کې د فعالو بنسټونو لخوا پراخ اعتراضونه شوي دي، ځکه د کمېسیون د غړو ګمارل له اداري فساد سره د مبارزې قانون د نهمې او لسمې مادې پرخلاف ترسره شوي او د اړوندو بنسټونو لخوا له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون د غړو د ګمارلو پر بنې هېڅ څارنه نه ده شوې. په داسې حال کې چې له اداري فساد سره د مبارزې قانون د لسمې مادې له مخې ولسمشر له اداري فساد سره د مبارزې په بهیر کې له فعالو مدني بنسټونو سره له مشورې وروسته د کمېسیون غړي ټاکي.
له بده مرغه افغانستان په تېرو شلو کلونو کې، له اداري فساد سره د مبارزې لپاره بېلابېل بنسټونه جوړ، ادغام او منحل شوي دي. **ښایي هېڅ هېواد د افغانستان په شان له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د بنسټ او پالیسۍ جوړولو پراخه تجربه ونه لري.**
په دې موده کې افغان حکومت د عملي ګامونو او له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د ځینوبنسټونو د سیاسي ملاتړ پر ځای، له اداري فساد سره د مبارزې بنسټونو د جوړولو، منحلولو او ادغام لپاره ډېرې مالي او انساني سرچینې له لاسه ورکړې دي.
په همدې دلیل له یوې خوا دغو بنسټونو د پام وړ لاس ته راوړنې نه دي لرلې او له بله پلوه د هرې ورځې په تېرېدو له افغانستان سره د نړۍ د هېوادونو د مرستو ددوام شرایط لاسختېږي او د نړیوالو مرستو ډېره برخه له اداري فساد سره د مبارزې لپاره د افغان حکومت په عملي اقداماتو پورې اړوند بلل شوې دي.افغان حکومت له افغانستان سره د مرستندویه هېوادونو د قانع کولو او د نړیوالو بنسټونو د لازیات باور د جلبولو لپاره د افغانستان په اړه له هرې ناستې مخکې یې یا یو نوی بنسټ جوړ کړی او یا هم نوې تګلاره جوړه کړې چې لږ بیا عملي شوې ده. له اداري فساد سره دغه ټول پروګرامونه، د افغانستان په اړه له نړیوالو ناستو مخکې اعلان شوي دي.
**له استثنا پرته، په تېرو شلو کلونو کې له اداري فساد سره د مبارزې ټول پروګرامونه، له یوې نړیوالې ناستې مخکې اعلان شوي دي. له دې امله په تېرو شلو کلونو کې له اداري فساد سره د مبارزې بهیر، له دې امله چې د یوه ملي لیډلورې پر بنسټ نه دی، بلکې سخت پروژه یې او لنډمهاله وو او هغه بنسټونه چې په دې برخه کې یې فعالیت درلود، د حکومت له لږ سیاسي ملاتړه برخمن وې او په پای کې منحل شوي دي.**
**په اوسني وخت کې د اداري فساد ګواښ او پایلې یې د هېواد لپاره له ترهګرۍ کمې نه دي. دا به مبالغه نه وي چې اداري فساد د افغان دولت او خلکو د اوسنیو ستونزو یو لوی لامل وبولو؛ ځکه ناامني، لوږه او وزګاري او همداراز جنایي جرمونه، د نشه یي توکو قاچاق او د عامه نظم ګډوډول، دا ټول په حکومتي بنسټونو کې له اداري فساد سره مستقیمه رابطه لري.**
په هره اندازه چې اداري فساد ښه جوړښت ولري، په هماغه کچه د بنسټونو کارندوالی زیاتېږي. له اداري فساد سره مبارزه به له بېوزلۍ، وزګارۍ، ناامنۍ، د نشه یي توکو له قاچاق سره د مبارزې او د یوه مسوول او ځواب ویوونکي دولت د جوړېدو په مانا وي. له دې امله، له اداري فساد او عواملو سره یې رابطه دوه اړخیزه ده.  په دې مانا هره ښکارنده چې په افغانستان کې د اداري فساد لامل وي هماغه اداري فساد زېږوي.

# لنډۍ

خلک به وايي چې وړه ده
ورې زما په زړه چړې منډلې دينه

خلک چارګل خونړی بولي
ما د نتکۍ په ډنډر ډېر وژلي دينه

خلک دې وايي تُهمتونه
زه د ليلا په غېږ کې چا ليدلی يمه

خلک زيارت له پتاسې وړي
زه د جانان لپاره غونډه روپۍ وړمه

خلک شراب وڅښي نشه شي
ما د ليلا د لاس اوبه نشه کوينه

خلک قيامت ته خفه کېږي
زه خوشالېږم چې جانان به ووينمه

خلک له غمه امان غواړي
زه د جانان په غم کې ډوب خوشاله يمه

خلک مې تول ديدن ته راغلل
هغه رانغی چې يې پروت له غمه يمه

خلکو زړې ياری تازه کړې
زما په نوې ياری اور ولګېدنه

خلک ګودر ګوري ګډېږي
زه بې ګودره ګډيدمه لاهو شومه

که ليونی دی زما خوښ دي
خلک ياري د ليونو سره کوينه

ودې ويشتم پورته دې نه کړم
خلک ويشتلې مرغۍ ژر پورته کوينه

۱۰
۸صبح
پښتو مجله ◆ لومړی کال ◆ ۱۶مه ګڼه ◆ شنبې ◆ د ۱۳۹۹ د ليندۍ ۸مه نېټه ◆ بيه ۲۰ افغانۍ

# د سبزي دوکان

◆ **دیاسنگ انجان**

مور خپل زوی په څپړه ووهلو او د ماشوم سره ئې خپله هم ژړل. ما چې دا هر څه ولیدل سخت خفه شوم او ددې کړنې د پوښتنې لپاره وروړاندې شوم، ورته ومې ویل:

خورجانې! ولې دا ماشوم وهې، څه گناه ئې کړې!؟

ماشوم په داسې حال کې چې په سترگو خپله څنگل نیولي او ژړل ئې، له مانه څنگ ته شو، مخ ئې بل لورته واړولو او ودریدو...

زما ورته پام وو چې رنې اوښکې ئې لکه سپینې ملغلرې په چاود مخ- د سیند په څیر- رابهیدلې؛ خو هیڅ یې هم نه ویل!

زما د پوښتنې په ځواب کې په ژړغوني غږ هغې وویل: «وروره! څه درته ووایم، تاسو به خبر نه یاست، چې د زمري پلار څه موده وړاندې په یوه ځانمرگې برید کې په حق رسیدلی او مور ډیر بېوزله یو! زه د خلکو په کورونو کې له مجبورئ نه کار کوم او یوازې ددغه زوی، د زده کړو لپاره خواري مزدوري کومه؛ خو دا بدبخت هره ورځ ښوونځي ته په ځنډ ځي او له ښوونځي څخه کورته ناوخته راځي، کالي یې هم په خاورو ککړ پکړ وي. په لاره کې هغه په لوبو ښکیل وي او خپلو زده کړو ته هیڅ پام نکوي.

ښځې له لږ خاموشی په ساندو او گیلو زیاته کړه: هغه هره ورځ ما ژړوي. زه دومره پیسې له کومه کړم چې هره ورځ دده کالي وریړې مینځم! زه د خلکو مزدوري کوم ترڅو یوه گوله وچه ډوډۍ دده ته او ځانته برابره کړم. میوه، پلو، غوښه، چیني (بوره) او داسې نور څه خو په میاشتو میاشتو وینو هم نه!

وه وروره ته ووایه! زه څه وکړم؟ له دغه یوه زوی او خدایه پرته بل څوک لرم؛ نور خو ټول دې بدبخته جگرو خوړلې. خو دا ځوانیمرگ هم په خبره نه پوهیږي...

هغه ښواکه شوه او په چیغه ئې وویل:

وه خدایه! کاش زه هم مړه شوې وای! دا بدبخته ورځ خو به مې نه لیدله! وریسې نوره هم سلگیو واخیسته!

خدای شته چې زه هم غمجن شوم خو له شرمه مې اوښکې سترگو کې تینگې کړې او گلالی ماشوم مې په غیږ کې نیولو سره لږ شانته نصیحت هم ورته وکړو

چې گوره حالات خراب دي؛ مور دې ښه وائي؛ سبق وایه، بیکاره خلکو سره مه گرځه!

زمري په لمندو سترگو د سر په خوځولو د ښه ځواب راکړو.

ما هم د هغه مورته وویل: خورې مه ژاړه هر څه به سم شي! خیر ده ماشوم دی پوئ به شي!! هغې نه مې خپل حال پټ کړ؛ خو دا پیښه مې په ذهن کې بیخې میخ شوه! یو سهار کله چې زه د سبزیو اخیستو لپاره د سبزیجاتو مارکیټ ته لاړم، ناڅاپه مې په یوه لس، یولس، کلن ماشوم سترگې ولگېدې، چې هره ورځ به له کوره وختي د ښوونځي په لور روان شو؛ خو په ځنډ به ښونځي ته رسیدو. ناڅاپه مې ولیدل چې هماغه ماشوم په بازار کې گرځي راگرځي، چیرې چې دوکانداران له پلورنځیو څخه د خپلو دوکانو لپاره سبزیجات اخلي او په بوریو کې یې اچوي، یو څه ئې چې په زمکه رالویږي، هغه دا ماشوم سمدلاسه را پورته او په خپله لمن کې یې راټولوي.

زه د هغه څه په اړه اندیښمن وم چې ددې ماشوم د مور له خولې مې اوریدلي وو. ما په پټه ددې ماشوم ددې کړو وړو څار پیل کړ.

کله چې د هغه خیرنه بوجئ له سبزیو ډکه شوه، هغه د سرک په غاړه د یوه دوکان مخې ته کښیناست او په لوړ غږ سره یې پلورل پیل کړل. ما په خپل

**پاتې په ۱۹م مخ کې**




# د «ډیپلوماسۍ بنسټونه او ډیپلوماتیک اداب» کتاب د چاپ په گاڼه سینگار شو!

◆ **راپور: محمد عزیز پردېس**

د «ډیپلوماسۍ بنسټونه او ډیپلوماتیک اداب» کتاب تېره اونۍ په کابل کې د سولې مطالعاتي، څېړنیز او خپرندوی مرکز له خوا چاپ او بازار ته وړاندې شو.

د کتاب لیکوال، سید علي حق شناس کمیاب دی چې پښتو ته د بغلان پوهنتون استاد، ښاغلي پوهنیار گل رحمن رحماني ژباړلی دی.

د کتاب ژباړن له ۸صبح پښتو مجلې سره په خبرو کې وویل: «دا کتاب چې زه یې د هر افغان ډیپلوماټ لپاره لوستل فرض گڼم، کولای شي چې لږ تر لږه هغوی ته د هېواد پالنې، د بهرنۍ سیاست د ارزښت او درښت، په بهر کې د خپل دولت او سیاست څخه ددفاع او نورو ته د خپل غږ رسولو او ښه تصویر د وړاندې کولو په برخه کې گټور معلومات او اصول وړاندې کړي».

ښاغلي رحماني د خپلو خبرو په دوام وویل: «د کتاب لیکوال د سیاسي علومو پیاوړی ایرانی عالم دی چې هم یې بهرنۍ سیاست مطالعه کړې او هم په ډیپلوماتیکو اصولو او د ډیپلوماسي په ارزښت پوه استاد دی، ده ته په ایران کې د سیاسي علومو د ارشد کارپوه په سترگه کتل کېږي او د ایران د بهرنۍ پالیسي په تدوین کې یې هم نظر ته درناوی کېږي».

ښاغلي پوهنیار رحماني د دې کتاب مطالعه د افغان ځوانانو او په ځانگړې توگه هغه کسانو لپاره چې له ډیپلوماسۍ سره مینه لري، اړینه بولي.



# بامیان

## د ژوند لرغوني پوهنتون

◆ څېړنوال عبدالغفور لېوال

تر دوهمي بودايي جرگې روسته، د (مهايانا) باورلاره د هېماليا له لمنو څخه خوره او د هېماليا د وورو (هيندوکوښ) لمنو ته راورسېده.

مهايانا، له نورو بنيادمانو او ژويو سره د خواخوږۍ او زړه سوي پر بنسټ، ژوند ته گواښ نه پېښول (نيروانا) يا د روح بشپړې خپلواکۍ ته د رسېدو لار وگڼله.

همدا مهال په ټوله پراخه بودايي جغرافيا کې زموږ د هېواد په زړه (باميان) کې د مهايانا تر ټولو ستر پوهنتون جوړ شو، چې زرگونو کسانو په کې زده کړه او رياضت کاوه.

باميان ته له درېيو لارو کاروانونه ور روان ول،

۱ـ له پرښاپوره ( پېښور) يا ژمني باگرام څخه د دوبني باگرام او د (نيلاب) پرغاړه د غوربند و شېبر پر لار.

۲ـ د سيکاراما له اړخه د پکتيانا، لوکرانا او چکرې و خوردکابل له لارې مخ په ورديکا بيا د باميان تر زړه پورې.

۳ـ د بگولان (بغلان) له ستر منځي څخه د شمالي هيندوکوښ پر څنډو تر باميان پورې. باميان سوړ و او ژمی به د يخنۍ رياضت په کې تر سره کېده. د بودا دوه ستري، لسگونه منځنۍ او سلگونه وړې پړې (مجسمې) په غره کې وکېندل شوې، په سترو کې درېيمه او تر دوه نورو لويه يې ترمخ پرته وه، چې نيروانا ته رسېدلی بودا يې تمثيلاوه.

د مهندسۍ، هنر، موسيقۍ، طبيعي رنگ جوړولو، قيمتي ډبرو د توږلو او غره توږنې هغه پوهنه او کارتوکي، چې هغه مهال کارول شوي، لا تراوسه هم پوهان ورته حيران دي.

د باميان زوړ سترتوب د مصر د اهرامو له ټولې بډايې حوزې سره برابر دی.

له (ژوند) سره مينه او ژوند ژغورل پوهنه گڼل کېدل او د دغې پوهنې تر ټولو لوی پوهنتون په باميان کې و.

پېړۍ پېړۍ روسته د نوي زماني بنيادمانو اول د مينې او ژوند پړې راونړولې او بيا يې باروت و بمونه وروړل، چې ژوند په کې په لنبو وسيزي او نيروانا د مرگ و جسماني نيستۍ په لوخړو کې له پرتم څخه راوغورځوي.

د باميان په گډون د دغو مدنيتونو په ستر هېواد افغانستان کې وينه مه بهوئ، لږ ترلږه له خپل څو زره کلن تاريخي عظمت څخه وشرمېږئ !

# د کورونا ویروس دوهمه څپه



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظریف صمیم

په هېواد کې د کورونا ویروس نوې شمېرې ښيي چې يوازې په يوه شپه ورځ کې په هېواد کې ۱۳ کوويډ نولس ناروغان مړه او ۱۶۸ نوي وګړي پر دغه ويروس اخته شوي دي.

د هغو شمېرو له مخې چې د لړم په دېرشمه نېټه د عامې روغتيا وزارت له خوا خپرې شوې، په څلرويشتو ساعتونو کې د کورونا دوه زره او ۵۹۹ شکمنې بېلګې ارزول شوې دي.
ددغو شمېرو پربنسټ، ۱۳۰ تنه په کابل، ۱۸ په ننګرهار، ۱۱ په نيمروز او لس تنه نور په کندهار کې په دغه ويروس اخته شوي دي.
همداراز اته تنه په کابل، دوه په بلخ، دوه په هلمند او يو بل هم په کندز کې د کورونا ويروس له امله مړه شوي دي. په څلرويشتو ساعتونو کې ۳۱ د کوويډ نولس ناروغان روغ شوي دي. په دې سره په هېواد کې د کوويډ ناروغانو شمېر ۴۴ زره او ۳۶۳ تنو ته ورسېد.
له دې ډلې ۳۵ زره او ۳۷۰ تنه روغ شوي او يو زر او ۶۶۳ نور مړه شوي دي.
روغتيا وزارت دوې ورځې مخکې په هېواد کې د کورونا ويروس د نوې څپې خپرېدل تاييد کړل.
له دې سره په يو وخت ځينې اقدامات لکه د ودونو د هوټلونو تړل په پام کې نيول شوي دي.
د وروستي پرېکړې له مخې پوهنتونه به هم د ليندۍ له ۸ مې د کب تر ۱۵مې پورې رخصت وي!
د عامې روغتيا وزارت خلکو ته سپارښتنه کړې چې ماسکونه وکاروي، ټولنيز واټن مراعات او په ورځ کې څو ځله لاسونه په صابون پرېمنځي.

# کابل ښاریـان د الکیـن په رڼا کې شپې سبا کوي



◆ لیکوال: اعجازالحق
◆ ژباړن: م. ظریف صمیم

ښـاریان د هیـواد پـه پلازمینـې کـې د برېښـنا د پرچـاوۍ لـه زیاتوالي شـکایت لـري. ډېری کابل ښـاریان په څلرویشـتو ساعتونو کې یوازې کابـو پنځـه ساعته برېښـنا لـري. دوی وايـي چـې د هـوا په سړېدو او د برېښـنا په کمښـت سره له ډېرو سـتونزو سـره مخامخ شـوي دي. د کابل ښـار اوسـېدونکي، د برېښـنا رسـولو مسوول بنسـټونه په ناغېرۍ تورنوي.

د پلازمینـې د برېښـنا د نشـتوالي پـه وړانـدې غبرګونونـه تـر ډېره پـه ټولنیـزو شـبکو کـې ترسـترګو کېـږي آن دا چـې دغـه چاره د ټولنیـزو شـبکو د کاروونکـو پـه طنـزي موضوع بدله شـوې ده. سربېره پر دې، د چاپېریـال سـاتنې اداره پـه کابل کې د برېښـنا له نشـتوالي او د هوا د ککړتیا لـه زیاتوالـي اندېښـنه لـري. دا اداره وايـي چـې د ښـار پـه کچـه ټـول لګول شـوي فلترونـه (اتیا سـلنه ښـارګوټو، لوړپـوړو ودانیو، حمامونـو... فلترونـه نصب کـړي دي)، د برېښـنا د نشـتوالي لـه امله غیرفعـال دي او دا چـاره پـه پلازمینـې کـې د هـوا د لازیاتـې ککړتیا لامـل شـوې ده.

برېښـنا شـرکت جوتـوي چـې پـه ازبکسـتان کـې د برېښـنا پـه یـوه سـب سټېشـن کـې د تخنیکـي سـتونزې له املـه، هېواد ته وارد شـوې برېښـنا ۱۵۰ میګاواټـه تـه راکمـه شـوې وه، خـو د لـړم په لومړۍ نېټه ۱۵۰ میګاواټه نوره برېښـنا ورزیاته شـوه. له بلې خوا، دا اداره تراوسـه د ازبکسـتاني لخـوا ددې سـتونزې اواري تـه هیلـه منـه ده.
زیـات شـمېر کابـل ښـاریان د برېښـنا لـه نشـتوالي او د پرچـاوۍ لـه زیاتوالـي شـکایت لـري. د دوی پـه وینـا لـه یـوې اونـۍ راهیسـې، پـه منځنـي ډول پـه څلرویشـتو ساعتونو کـې کابـو نولس ساعته برېښـنا نـه لـري. دغـه ښـاریان زیاتـوي چـې د هـوا پـه سړېدو او برېښـنا پـه نشـتوالي سـره، لـه جدي سـتونزو سـره مخامخ دي. دوي جوتوي چې د کورونـو د روښـانه کولـو لپـاره له لومړنیو وسـایلو لکه الکیـن او ګیس شخـه کار اخلـي، خـو د پرچاویـو لـه زیاتوالـي او برېښـنا لـه نشـتوالي سـره سـره، د برېښـنا د لګښـت پیسـې نـه دي کمـې شـوې. لـه بلـې خـوا، پـه ټولنیـزو شـبکو کـې د برېښـنا د نشـتوالي پـه هکلـه د خلکـو شـکایتونه ډېـر پـراخ شـوي دي. د فیسـبوک یـو شـمېر کاروونکـي د کابـل پر برېښـنا په نیوکې سره، برېښـنا شـرکت په ناغېـرۍ تورنوي او حکومـت د دوی د اړتیـاوړ برېښـنا پـه برابرولـو کـې نـاکام بولـي.

د فېسبوک یوه کاروونکي لیکلي: «کابله، د برېښنا په غم کې دې شریک یوو!»

همداراز یوه بل کاروونکي لیکلي دي: «زموږ په کور کې د برېښنا بل د الیکن په مخکې ګورو چې خومره راغلی دی.»

سربېره پر دې، یوه فېسبوک چلوونکي د الکین د کارولو لرغوني دود د راژوندي کولو له امله له برېښنا شرکته مننه کړې ده. یوه بل کاروونکي د طنز په توګه لیکلي: «د کابل برېښنا هم لنډغري پیل کړې ده.» سربېره پر دې، هغه څه چې د فېسبوک کاروونکو غبرګونونه یې راپارولي، د برېښنا رسولو د خدماتو په برخه کې د برېښنا شرکت له کړنو د ولسي جرګې د غړو ستاینه ده؛ په ټولنیزو پاڼو کې پر دغه کار ملنډې وهل شوې دي.

له بلې خوا، د چاپېریال ساتنې اداري د څارنې او ارزونې ریاست د هوا د ککړتیا د زیاتوالي په اړه د اندېښنې په څرګندولو سره وایي چې ددغې اداري شوي کارونه د برېښنا د نشتوالي له امله له جدي ستونزو مخامخ شوي دي. د چاپېریال ساتنې اداري د څارنې او ارزونې رئیس نیک محمد رحمتي، د لیندۍ په لومړۍ نېټه ۸صبح ته وویل چې دوی په روان میلادي کال کې په پلازمینې کې د اتیا سلنه مرکز ګرمیو لپاره فلترونه لګولي چې دا ټول برېښنا ته اړتیا لري.

د ښاغلي رحمتي په وینا، د برېښنا د پرچاوۍ او نشتوالي له امله، په لوګي لرونکو مرکزونو کې ټول لګول شوي فلترونه له فعالیته لوېږي چې دا کار په کابل کې د هوا د لازیاتې ککړتیا لامل کېږي. دغه ریاست هم وایي چې په کابل ښار کې له ۵۰ زره زیات جنراتورونه موجود دي چې روښانه کېدل یې د هوا په ککړتیا کې اصلي رول لري. د چاپېریال ساتنې اداره چې په ښار کې منظمه برېښنا د هوا د ککړتیا د مخنیوي لپاره اغېزمنه بولي، زیاتوي چې د هوا د ککړتیا مخنیوی له برېښنا پرته ناشونی کار دی.

له بلې خوا برېښنا شرکت، په وروستیو ورځو کې د برېښنا د پرچاوۍ د زیاتوالي لامل د ازبکستان په یوه سب سټېشن کې تخنیکي ستونزې ګڼي. د برېښنا شرکت ویاند وحیدالله توحیدي، ۸صبح ته وویل چې د ازبکستان له خوا ددغې ستونزې د اوارې لپاره یو تخنیکي پلاوی ګمارل شوی او تراوسه یې په نایب آباد سیمه کې افغانستان ته د وارداتي برېښنا کچه ۳۰۰ میګاواټه ته زیاته کړې ده، چې ۲۰۰ میګاواټه د پلازمینې په برخه شوه. د ښاغلي توحیدي په خبره، ددې ستونزې د اوارۍ لپاره هڅې روانې دي او کله چې دا ستونزه حل شي د برېښنا د وېش بهیر به عادي حالت ته ستون شي او دا اداره به د برېښنا د پرچاوۍ مهال وېش له خلکو سره شریک کړي.

ښاغلي توحیدي زیاته کړه چې په اوسني وخت کې کابل له ۶۵۰ تر ۷۰۰ میګاواټه برېښنا ته اړتیا لري او آن د برېښنا د کورنیو تولیداتو په ګډون د ازبکستان د وارداتي برېښنا د بشپړېدو په صورت کې به یوازې ۴۸۰ میګاواټه برېښنا برابره شي چې په دې کار سره بیا هم د کابل د برېښنا پرچاوې پای ته نه رسېږي.

کابل ښاریان په داسې حال کې په پلازمینې کې له ډېرو پرچاویو سرټکوي چې د برېښنا شرکت په وینا، آن د برېښنا په عادي کېدو سره به هم کابل ښاریان په څلرویشت ساعتونو له شپږو تر نهو ساعتونو برېښنا ونه لري. له بله پلوه، د برېښنا شرکت چارواکي ددغې ستونزې د اوارې د ځانګړي وخت په اړه بې خبري ښیي او هیله څرګندوي چې دا ستونزه زرترزره حل شي.

د ویلو ده چې د انرژۍ د تنظیم اداري د مالوماتو له مخې، د هېواد ۷۷ تر ۸۰ سلنه برېښنا اوسمهال له تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایرانه واردېږي. چارواکي جوتوي چې یوازې د هېواد شل تر ۲۳ سلنه برېښنا له کورنیو سرچینو برابرېږي. په دې توګه، افغانستان هر کال کابو ۲۸۰ تر ۳۰۰ میلیون ډالر د برېښنا د واردولو لپاره ګاونډیو هېوادونو ته ورکوي. که څه هم حکومتي چارواکي له دې مخکې په ځلونو ژمنه کړې چې افغانستان به د برېښنا په صادرونکي او د آسیا د برېښنا په مرکز بدل کړي، خو تراوسه یې یوازې د پلازمینې لپاره برېښنا نه ده برابره کړې.

# ۶۸۰ زره کابل ښاریانو ته د لنډمهاله کاري زمینې برابرول

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظریف صمیم

کابل ښاروالۍ اعلان کړی چې د پلازمینې د ۶۸۰ زره کورنیو لپاره د رغنیزو، د چاپېریال ساتنې، د ښاري بېخ بنسټونو د پیاوړتیا او کوچنیو بازارونو د جوړولو په برخو کې د اجرایي پروژو له لارې لنډمهاله کاري زمینه برابروي.

د هغې اعلامیې له مخې چې د سه شنبې په ورځ، د کابل ښاروالۍ له خوا خپره شوه، کابو اته میلیون ډالر ددغو پروژو د اجرا لپاره په پام کې نیول شوي چې د کابل ښار په دوولس گونو ناحیو کې اجرا کېږي.

په اعلامیه کې راغلي چې کابل ښاروالي له نړیوال بانک سره په همغږۍ به په پلازمینې کې د کورونایي وضعیت له امله د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو د مدیریت لپاره، د بېخ بنسټونو او ښاري آسانتیاوو په برخو کې د رغنیزو او څارونکو لنډمهاله پروژو په چوکاټ کې، د زیات شمېر کارگرو لپاره د کار زمینه برابره کړي.

د ښاروالۍ د مالوماتو پر بنسټ، د کار دا پروگرام په ۱۲۱ پروژو وېشل شوی او د کابل ښار په هره ناحیه کې د اړتیا له مخې له دوو تر شپږو پروژې اجرا کېږي.

کابل ښاروالي وایي چې دا پروژې په داسې ډول تعریف او درجه بندي شوې چې د یخنۍ په موسم کې د کابل ښاریانو اصلي ستونزې تر یوه بریده اواري کړي.


په دغو پروژو کې د ویالو پاک کاري، د استنادي دېوالونو سنگ کاري، د پلیو لارو رغول، د واټونو او کوڅو سمټ کول شامل دي.

ټاکل شوې له تدارکاتي بهیر او له پلي کوونکي شرکت سره له قرارداد وروسته ددغو پروژو عملي کارونه پیل شي.

ددغه پروگرام په اړه د مالوماتو د ورکولو لپاره د کابل ښاروالۍ، اجرا کوونکو بنسټونو او د کابل ښار د گذر وکیلانو په گډون ناسته ترسره شوې ده.

کابل ښاروال داوود سلطان زوی په دغه ناسته کې ویلي چې د بې وزلۍ د کمولو لپاره هڅه کوي چې د لویو او کوچنیو پروژو د اجرا له لارې خلکو ته د کار زمینه برابره کړي.

د هغه په وینا، د کابل ښار یوه بې نظمي د واټونو ترڅنگ پلورونکي دي چې د بې وزلۍ له امله دا کار کوي. کابل ښاروال ټینگار کوي چې له هرې ممکنې لارې به د بې وزلۍ د کمولو لپاره د کوچنۍ او منځنۍ پانگونې لپاره زمینه برابره شي.





# ننگرهار د سیلانیانو هوساینځای

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ حفیظ الله علي خیل ـ ننگرهار

ننگرهار ولایت د سیلانیانو لپاره په مرکز او ولسوالیو کې ګڼ هوساینځایونه او تاریخي سیمې لري.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکي ژمنه کوي چې د کورنیو او نړیوالو سیلانیانو د جلبولو لپاره به لازیاتې هڅې وکړي.

د ننگرهار ولایت چارواکي د ګرځندوی وضعیت او پر کلیوالي پراختیا یې اغېز د ارزونې په سمینار کې، له خلکو وغوښتل چې نوموړي ولایت ته د څېړنو او سېل لپاره ورشي. د ننگرهار والي وایي چې په دې ولایت کې د مملې باغ، سراج العمارت او امیرشهید بڼونه، دره نور، کوز کونړ، کامه، شینواري ، خوږیانې او ګن شمېر نورې سیمې د سېل او ارام کولو لپاره غوره سیمې دي او د ننگرهار د خلکو اقتصادي وضعیت د ښه والي په موخه یې، پر هېوادوالو او نړیوالو غږ وکړ چې په ډاډمن ډول له دغو سیمو لیدنې وکړي .

د ننگرهار د اطلاعاتو او کلتور رئیس رحیم الله خوګیانی وایي چې تر خپله وسه به هڅه وکړي چې په دې ولایت کې د خلکو لپاره سېل سفرونه برابر کړي چې ددې ولایت رښتینی امن لرونکی انځور له نړیوالو او هېوادوالو سره شریک کړي .

اخوا د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مالي، اداري او ګرځندوی مرستیاله سیده مژګان مصطفوي وایي چې افغانان په لومړي ګام کې مذهبي او دوهم په روغتیایي برخه کې سفرونه لري او هیله یې وښوده چې په هېواد کې د ګرځندوی صنعت پیاوړی شي .

شاوخوا ۴۱ کاله ورانديز د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو د سېل لپاره وګړي افغانستان ته د تحقیقاتو، هوساکېدلو او نورو چارو په موخه راتلل چې د هېوادوالو له اقتصاد سره یې مرسته کوله، خو په هېواد کې د کورنیو جګړو په پیلېدو د نورو برخو ترڅنګ، د ګرځندوی صنعت هم په ټپه ودرېد چې اوس یې بیا د راژوندي کولو او پرمختګ لپاره هڅې پیل شوې دي.

# په کندهار کې د پنبې حاصلات



◆ احمدشاه شاداب ـ کندهار

له ډېرې مودې وروسته کروندګرو کندهار کې یو ځل بیا پخوانیو کښتونو ته مخه کړې ده.

دا مهال ددغه ولایت په څلورو ولسوالیو ډنډ، دامان، ژړۍ او ارغنداب کې پر ۱۲ سوه هکتاره زمکه مالوچ کرل کېږي.

کروندګر یې له حاصلاتو خوښ دي، خو له دولته غواړي چې حاصلاتو ته یې ثابت بازار پیدا او په هېواد کې دننه یې د روغتیا په ګډون په نورو برخو کې د کاروني زمینه برابره کړې ده.

د پنبې کروندګر محمدعلي او نقیب الله وایي چې اوس ورته د پنبې له کروندې لږ اندازه پیسې پاتې کېږي؛ خو که چېرې د دولت او یا هم ملي سوداګرو له لوري ورته د فابریکو او بازار موندنې زمینه برابره شي؛ نو پراخه ګټه به وکړي.

کروندګر وایي چې په دې سره به خلک لا هم دغه کښت او ورته نورو کښتونو ته مخه کړي او ور سره به د هیواد او په خاص ډول کندهار کرنه او اقتصاد پیاوړي شي.

د کندهار د سوداګرۍ او صنایع خونې چارواکي وایي چې د کندهار د پنبې حاصل د سیمې په کچه دي او دا مهال یې یو کېلو پنځوس افغانۍ بیه لري.

په دغه ولایت کې د سوداګرۍ او صنایع خونې چارواکي زیاتوي چې د پخوا په پرتله په دغه ولایت کې د پنبې تولید زیات شوی او پلور یې هم د نړیوالو بازارونو د معیار پر اساس کیږي.

د کندهار د سوداګرۍ او صنایع خونې مرستیال نعمت الله نعمت وایي چې د کندهار د پنبې د پلور پر نورو تګلارو هم کار کوي.

نښاغلي نعمت وایي چې د تېر په پرتله اوس د پنبې کښت په کندهار او هلمند کې زیات شوی؛ خو وایي دلته فابریکې د ګڼو ستونزو له امله د کال شپږ میاشتې کار کوي، ځکه اړینه ده چې په دې برخه کې لا زیات کار وشي چې د پنبې کښت د کرلو کچه نوره هم زیاته شي.

د کندهار د کرنې اداره بیا وایي چې په دغه ولایت کې یې د پنبې د حاصل د زیاتوالي او معیاري کېدو هڅې پیل کړې دي.

د کندهار د کرنې او مالدارۍ رئیس سید حفظ الله سیدي وایي چې د پنبې د پروسیس لپاره یې له ۱۷ فعالو فابریکو سره په دغه ولایت کې د کروندګرو اړیکې جوړې کړې او د پنبې تولید د زیاتېدو په حال کې دی.

سیدي وایي چې د کندهار د پنبې د تولید د کیفیت لوړولو لپاره له کروندګرو سره د دوی لخوا مرستې هم پیل شوې دي.

د کرنې رئیس سید حافظ الله سیدي وایي چې اوس خلک پوه شوي او بیا ځلي یې هغه کښتونو ته مخه کړې چې ګټه یې په اقتصادي او زراعتي برخه کې تر نورو زیاته ده .

پنبه، پسته، زعفران، سوایابین، مرخړې، الوبرا، زمکنۍ توت کښتونو او د مېو باغونه، تازه په دغه ولایت کې دود شوي دي.

چارواکي وایي چې د نویو نباتاتو او مېوه جاتو د دودولو په اړه هم څېړنه کوي، چې ژر به یې پایله څرګنده شي.

**د ۱۱م مخ پاتې برخه**

# د سبزي دوکان

ژوند کې د لومړي ځل لپاره داسې یو هټیوال ولید چې د زمکې له مخه سبزی راټولوي او هغه د سړک په مخ پلوري.

خدای شته چې ورته حیران پاتې کیدو سره په سر کې مې د سوالونو ژرنده په ګډا شوه. چې دا ظالم ولې داسې کوي؟ د ښوونځي وخت هم دی خو دا دلته دوکانداري کوی او داسې نورې ډېرې پوښتنې.

په همدې شیبه کې ناځاپه یو سړی د خپل پلورنځي څخه راپورته شو او هلک چې دده پلورنځي مخې ته یو کوچنی پلورنځی جوړ کړی وو، یوه درنه څپېړه په مخ ووهلو او ټوله سبزي ئې ورته په سړک وشیندله. کوچني هټۍ وال په نمجنو سترګو، په منډه منډه بیا د هغو سبزیجاتو په راټولولو پیل وکړ.

له سبزی راټولو وروسته د یوې بلې هټۍ مخې ته کیناستلو او په سبزی پلورلو یې پیل وکړ.

دا دوکاندار ډېر نیک انسان وو ماشوم ته ئې څه ونه ویل. ماشوم بیا چیغې کړې چې سبزی واخلی، له لږ ځنډ وروسته ټوله سبزي خرڅه شوه او ماشوم پورته شو، په بازار کې د یوه ټوکر یا جامو پلورنځي په لور روان شو، نه پوهېږې، چې زه ئې هم تر شا په پټه ور روان یم. هغه دوکان ته ننوتو او دوکاندار ته یې د پیسو له ورکولو وروسته خیرنه بوجۍ هم هلته کېښوده او د کتابونو کڅوړه ئې راواخیسته د ښوونځي په لور روان شو، زه ورپسې تر شا روان وم، ښوونځي ته ورسیدو خو یو ساعت ناوخته وو.

کله چې ماشوم ټولګي ته ننوتو ښوونکي یې یو لرګی تیار په لاس کې نیولی وو؛ د ماشوم له رسیدو سره سم ئې په هغه د ګوزارونو باران شروع کړو.

د ماشوم له سترګو ټپ ټپ اوښکې را وڅڅېدې!

دې وخت کې ما ښوونکي ته وویل چې یتیم دی مه یې وهه بس ده! ښوونکي وویل: «ښاغلیه! هغه هره ورځ یو ساعت ناوخته راځي، زه هره ورځ هغه د ویرولو په موخه دا په سزا رسوم او د هغه کور ته مې هم څو ځلې پیغامونه استولي دي.» کله چې ماشوم وهل وخوړل، هغه په خپله څوکۍ کښېناست او په لوستلو یې پیل وکړ.

ښوونکي ئې په تنده لهجه یو ځل بیا وویل:

وو مردار خوره! ته دا لباس ته خو د لږ وګوره، دا ښونځی ده؛ څه کباړي بازار خو نده! دا ټولګیوالو ته دې لږ ځیر شه څومره پاک او صفا دي.

ما د هغې ښوونکي د موبائیل شمیره راواخیسته او کور ته لاړم. کله چې زه کور ته ورسیدم، پام مې شو چې ما کور لپاره اخستې سبزی په مارکیټ کې هیرې کړې. ملامته نه وم، ځکه چې نن مې هغه څه لیدلي وو چې تصور مې هم نشو کولئ.

خیر د ما سودا خو له ما ورکه شوه، خو په دې فکر کې وم چې اوس به ماشوم د معمول په څیر له ښوونځي څخه کور ته راغلی وي او له مور څخه به یې بیا وهل خوړلې وي!

ټوله شپه مې د سوچو په کټ تیره کړه، خوب راسره داسې خدای په امانې کړې وه چې ترځنګ مې هم نه راتلو.

سهار شو میرمن ته مې د یو ګیلاس کهوې وویل او ورسره مې هغه ښوونکي ته د سبزی مارکیټ د راتګ لپاره تیلفون وکړو چې سبزي مارکیټ ته راشي.

ښوونکې راته وویل چې په ما ښوونځي ته تګ له ځنډ سره مخ کیږي؛ خو ما ټینګار پرې وکړو چې هرو مرو به تاسو راځی ځکه چې ما غوښتل هغه ښوونکي ته هم مثبت ځواب ورکړم.

لمر راپورته شو او دا هغه وخت وو، چې زمری باید ښوونځي ته ولاړ شي او ماشوم مستقیم له کور څخه بازار ته لاړ ترڅو خپله کوچنی هټۍ پرانیزي. زه د هغه کور ته لاړم او د هغه مور ته مې وویل:

خورې! ته له ما سره راشه! زه به تاسو ته وښایم چې ستا زوی ولې ښوونځي ته ناوخته ځي. هغه سمدلاسه له ماسره د تلو لپاره تیاره شوه او له ځان سره ئې غلي غلي ویل چې دا هلک به زه نن نه پرېږدم.

ښه ؤ د هلک ښوونکی هم سبزي منډي ته راغلی وو. بیا زما په غوښتنه موږ درې واړه پټ کیناستلو او د کوچني هټۍ وال د کړنو څار مو کولو.

له معمول سره سم هغه باید خپله دوکانداري شروع کړي، همداسې وشول، ماشوم راغی او سمدستي د سبزي په راټوله بوخت شو او ورسره ئې له ډېرو کسانو د تل په څیر سپکې سپورې اوریدلې او غریب بیچاره دا هرڅه د نورو ورځو په څیر زغمل.

له لږ ډېر ځنډ وروسته ماشوم دوکاندار د خپل دوکان بند و بست وکړ او په زوره زوره ئې چیغې وهلې چې ارزانه سبزي واخلئ، تازه سبزي واخلئ او....

په پای کې هلک خپل سبزیجات وپلورل او د جامو پلورنځي ته روان شو.

ناځاپه زما سترګې د هغې مور ته ور واوښتې، ما ولیدل چې خورکۍ داسې ژاړي لکه باران چې وورې. ما سمدلاسه ښوونکي ته وکتل چې له ما بتر د هغه په ړیره د اوښکو سیلاب روان دی او لاسونه یې لپه کړي له خدای پاک څخه په ناپوهی کې د شوی ګناه بخښنه غواړي!

داسې خجالته وو لکه څنګه چې، هغه له یوه مظلوم سره لوی ظلم کړی وي او نن هغه خپله غلطي درک کړي وي!

بلخوا د ماشوم مور په ژړا ژړا کور ته لاړه او ښوونکې یې هم ښوونځي ته په سرو سترګو روان شو.

له معمول سره سم هلک هټۍوال ته پیسې ورکړې او نن هټۍ وال ورته یوه جوړه زنانه کالي ورکولو سره وویل «زویه! د جوړې پیسې پوره شوې.!»

هلک رخت راواخیست، او د کتابونو په کڅوړه کې یې له اچولو سره د ښوونځي په لور روان شو. هغه نن ورځ بیا یو ساعت ناوخته ښوونځي ته رسیدلی وو. هغه کڅوړه په میز کېښودله او مستقیم ښوونکي ته لاړ، تنکي لاسونه ئې استاد ته د تیر په څیر ونیول چې وئې وهې. خو نن برعکس، استاد خپله غېږه کې راټینګ او ښکل کړ. او ورسره ئې دومره په زوره وژړل چې ټول ښوونځی خبر شو. ما هم خپلې اوښکې کنټرول نشوې کړای. کله چې له حقیقته نور ښوونکې خبر شول، خدای شته چې د هغوی سترګې هم نمجنې شوې. زه مخکې لاړم، د ښوونکي په مټ مې لاس کښېښود او سترګې مې ورپاکې کړې، یو دم عجیبه چوپتیا خوره شوه او پدې وخت کې ما له ماشوم څخه وپوښتل چې کڅوړه کې سوټ (رخت) د چا دی؟

هلک په ډار ډار ځواب راکړ: معلم صاحب دا مې مور ته اخیستې دی. زما مور د بډایه خلکو په کورونو کې کار کولو ته ځي او هغه سمې جامې نلري. ټولې زړې دي چې ځینې ئې څیرې هم دی، خو دا چې ډېرې زړې شوي د ګنډلو ځای پکې نشته. صاحبه مونږ غریبان یو. ما د خپلې مور لپاره جامې اخیستي.

پدې وخت کې ما له ماشوم څخه پوښتنه وکړه:

ایا ته دا سوټ کور ته ورې او خپلې مور ته به یې ورکړئ؟ ځواب زما او د ښوونکي تر پښو لاندې زمکه وخوېوله، «نه کاکا، له رخصتی وروسته به، زه دا کپړه د ګنډلو لپاره درزي ته ورکړم او هره ورځ به کار کوم. کله چې د ګنډلو پیسې پوره شوې، له ګنډونکي څخه به یې، بیا خپلې مور ته یوسم.

ښوونکی او زه په ژړا ژړا دې سوچ کې ورک وو چې اوس به دا بېګناه ماشوم پدې سړه هوا کې، بیا بازار ته ولاړ شي، او د خلکو لخوا به ښکنځلې او څو څپېړې تر هغه خوري چې د خیاط د کالیو ګنډلو اجوره ئې پوره کړې او کالي کونډې مور جانې ته وروړ وي.

دا کوچنی باید چې هره ورځ خپل پلورنځی- بلاناغه که هر څنګه کیږي- جوړ کړي. ناګهانه زما له خولې ووتل:

«ای کریم او رحیم پروردګاره تر کله به د غریبانو ماشومان کوچني دوکانونه جوړه وي او وهل ټکول به خوري...»






# د سریلانکا سوداګریزې کرکټ سیالۍ پیل شوې

◆ **راپور: محمد عزیز پردېس**

د سریلانکا سوداګریزې کرکټ لوبې د روان کال د لیندۍ میاشتې په شپږمه، د پنجشنبې په ورځ پیل شوې، د دغه لیګ د سیالیو د خپرولو حقوق د افغانستان ملي راډیو ټلویزون اخیستي دي او د ملي سپورټ له لارې په ژوندۍ بڼه خپرېږي.

په دغه لیګ کې د افغانستان د کرکټ ملي لوبډلې ځینې لوبغاړي هم اخیستل شوي دي چې په ترتیب سره یې نومونه په لاندې ډول دي: کریم صادق، افتاب عالم، رحمان‌الله ګربز، سمیع الله شینواری، قیس احمد، حضرت الله ځاځی او نوین الحق.

د سریلانکا هېواد د لانکا په نامه لیګ کې ۵ لوبډلې ګډون لري چې لوبې به یې شاوخوا شل ورځو دوام وکړي.

په یاد لیګ کې د افغان لوبغاړو سربېره ګڼ شمېر نور بهرني لوبغاړي هم اخېستل شوي دي.


هېره دې نه وي دا لومړی ځل دی، چې د سریلانکا سوداګریزې کرکټ سیالۍ ترسره کېږي.

# عکسونه خبرې لري



د جنګ چړې، د بامیانوالو وینې وغړولې؛
بمي چاودنې، څوارلس تنه په وینو وریت کړل!






بامیانوالو د ښوونځي، پوهنځي و پوهنتون کر زده کړی؛
د پوهې و ویښتیا درمندونه ټولوي!

عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

Hasht e Subh Magazine

Yesterday's Narrative · Today's Mirror · Tomorrow's Hope



له دومره جګړو او ناورینونو سره سره، افغانان د یوه راڼه،
طلایي، او پرمختللي سباوون په لور لاره وهي.
نوی افغانستان به د نرانو او ښځو په ګډ فکر و عمل،
د بري سرمنزل ته رسیږي.

عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.